هدايت الله هدايت ۲۰۱۰/۹/۱۹

## د نړۍ د وتلو رسنيو او ورځپاڼو پېژندنه (۲۶) USA TODAY

# د يو ايس اې ټوډې ورځپاڼه



د امريکا په ويرجينيا کې د يو ايس اې ټو ډې ورځپاڼې مرکزي دفتر

په امريکايي ټولنه کې د عوامو د ذهنيت په اوښتو کې د ټلوېزون را وروسته ورځپاڼې تر ټولو کارنده اثر کوي او خورا فايده منه خبري او اطلاعاتي رسنۍ ګڼل کيږي . په دې هيواد کې هره ورځ نيژدې ۶۰ ميليونه نسخې ورځپاڼې خرڅيږي خو ددې هيواد خپروني لړ خپلواکې، لړ سيالي او لړ د ټولنې د اکثريت د ګټو استازي دي . په ۱۹۴۵ م کال کې د امريکا د هر پنځو ورځپاڼو څخه څلور يې مستقل چلوونکې او خپلواکه مالکان درلودل او زياترو به يې په نورمال ډول د خلکو په غوندي خپلې خپروني په محلي توګه خپرولې؛ خو هغه دوران نور اوبو يوړ . زياتره دغه خپلواکې ورځپاڼې د ۱۹۷۰ م کال داو يا يمې لسيزې تر نيمايي پورې د ځانګړو پيسه داره اشخاصو، لويو صنعتي شرکتو، او انحصار ګرانو لخوا را نيول سوې او يا پخپله د همدوی د رقابت په ميدان کې د مينځه ولاړلې . نن اکثره دغه ورځپاڼې د يوځو ګوتو په شمار د لويو شرکتو او د رسنيو د ميلياردړانو انحصارګرانو په لاس کې لوېدلې دي چې مسؤل مديران يې ان په سلهاوه او حتی په زرهاو کيلومتره د هغوی نه ليرې ژوند کوي .

يو ايس اې ټوډې (USA TODAY) ورځپاڼې ته په امريکا کې د يوې سراسري ورځپاڼې په حيث کتل کيږي . دغه ورځپاڼه په ۱۹۸۲ م کال کې د ګانت د شرکت (Gannett Company) لخوا خپره سوه چې مؤسس يې آلن ايچ نيوهارټ (Allen H. Neuharth) نوم درلود . د ګانټ شرکت په ۱۹۰۶ م کال کې د فرانک ګانټ « Frank Gannett


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

» لخوا چي يو جمهوري غوښتونکئ بانفوذه شخص وو، جوړ سو . دغه شرکت تر ۲۰۰۳ م کاله پوري ۹۹ ورځپاني او مجلې، ۲۲ ټلوېزوني شبکې په لسهاوه راديويي سټېشنونه او يو خبري آژانس درلود .

په امريکا کي د يو ايس اې ټوډې ورځپانه په ملي کچه د هندوستان د ټايمز آف انډيا د ورځپاني را وروسته په نړۍ کي يوه تر ټولو پرفروشه انګريزي ژبې ورځپانه ده، خو زيات خلک هغې ته د يوې مهمي ورځپاني په سترګه نه ګوري . په لوموړي سر کي دغې ورځپاني د امريکا د نورو وتلو ورځپانو په تناسب د هفتې په هره ورځ کي، البته غير له شنبو او يکشبو ورځو څخه د څه کم ۲ ميليونه او دوه نيم لکه نسخو په چاپولو سره لوړترينه تيراژ درلود. البته را وروسته دغه رقم تدريجي نزول وکړ چي دم درحاله يې د تيراژ تازه رقم و يوه ميليون او ۸ لکه نسخو ته رسيږي.

د يو ايس اې ټوډې ورځپاني د خپلو مخاطبانو د ساتلو او د لانورو د جذبولو د پاره د معاصري ارواپېژندني او روانشانسي ټول ميتوډونه او ظرافت کاري په پام کي نيولي او په عوامو کي يې د خپل نفوذ د زياتېدو له پاره په کاراچولي دي . دغه ورځپاني د خپلو ليکنو و خپرېدو ته خاص سبک ورکړی دئ او په ځانګړې توګه يې د مطالبو و خلاصه نويسی ته زياته پاملرنه کړېده ، مطالب يې د زياتو تصاويرو سره يوځای خپريږي . يعني دا چي دغه ورځپانه ساده نثر کاروي او زياتره په خپلو مطالبو کي د ژبې د قواعدو په رعايت پسې دونه سر نه ګرځوي. هر پراګراف يې په درو جملوکي خلاصه کيږي چي دغه ميتوډ د لوستونکو سره مرسته کوي په آساني سره هغه ولولي او د مطلب پيغام ځيني واخلي. د همدغه سادګی او د مطالبو د آسانه درک پخاطر دئ چي په عوامو کي هغې ته د مکډونالډ د همبرګر يا د مک فاسټ فوډ (Mac Fast Food) لقب ورکول کيږي، او په پسخند سره د غه ورځپانه د MacPaper په نامه يادوي .

نن سبا د يو ايس اې ټو ډې ورځپانه د امريکي په ټولو پنځوسو ايالاتو کي د توزيع شبکې لري او داسي تلاش کوي چي د نورو امريکايي ورځپانو په مقايسې سره خپل د توزيع خاص ميتوډ وساتي .

دغه ورځپانه د امريکا د خلکو څخه د نظر سنجيو په را ټولو کي هم ځانته زيات شهرت ورکړی دئ . خوبړ دي خبري باندي اتفاق يقيني دئ چي د يوې ورځپاني اهميت او مقبوليت په زيات تېراژ باندي نه ارزول کيږي ، بلکه زياتره د هغې د مطالبو په کيفيت، او د ليکوالانو د پوهې او د هغوی په ټولنيز مقبوليت ، تجربې او شهرت کي نغښتي دئ ،او يا داچي دغه يا هغه ورځپانه د چا د خوا خپريږي او څوک يې لولي اوپه سياسي لحاظ د چا ملاتړ کوي دغه فکټورونه د هغې په شهرت کي اصلي عوامل دي .

**ددې سره سره چي د يو ايس اې ټوډې لوړ تيراژ او زيات شهرت لري خو دغه ورځپانه** د ۲۰۰۴ کال په لومړيو کي د يوې لويي رسوايي او شرم سره مخامخ سوه. حتی ډيرو دغه رسوايي د امريکا د رسنيو د فعاليت اصلي ماهيت و باله. خبره هغه وخت و خپل اوج ته ورسيده چي د هغې په وجه ددې ورځپاني دوه کليدي سرغنه کارمندان يعني د ورځپاني لوړ رتبه اېډيټره ميرمن کيرن جورجنسن Karen Jurgensen او د خبري څانګې ايډيټرهال ريټر Hal Ritter د ۲۰۰۴په اپريل کي استعفاوي وکړلې. رسوايي هغه وخت را پورته سوه چي ددې ورځپاني يو تر ټولو مشهوره او پخوانی خبريال جک کلي Jack Kelley چي د پوليتزر Pulitzer Prize د جايز ګټونکی هم وو، يو جعلکاره خبريال راووت او ثابته سوه چي نوموړي د څنځيري جعلکارانو د ډلې څخه يو اهم غړی وو چي خپل زيات ګزارشونه او خبرونه يې چي اصلاً واقعيت به يې نه درلود د خپل ځانه جوړ ول او هغه يې بيا د همدې ورځپاني په سرکي خپرول. جالبه يې لا داچي نوموړي خبريال د پوليټزرجايزه هم چي په امريکا کي د ژورناليستي فعاليتو تر ټولو لوړه او باعتباره جايزه ده په کال ۲۰۰۱کي د يوه غلط جنګي راپور په وجه ترلاسه کړي وه. نوموړي په درواغو ځان په بيت المقدس کي د يوې انفجاري ځان وژونکي صحني ناظر کښلی اوهغه يې و لوستونکو ته معرفي کړی وو، حال داچي نوموړی کس اصلاً ځان وژونکی نه وو.

**جک کلي د دوولسيزو په جريان کي د يو ايس اې ټوډې د يوه وتلي ستوري خبريال په حيث د نړۍ و مختلفو برخو ته سفر کړی وو، د ۳۶ هيوادو د مشرانو سره يې مصاحبې کړې وې او په لسهاو د ځګرو خبرونه يې په خپلو ګزارشو کي خپاره کړي وه . هغه په همدغه ورځپانه کي د ۱۹۹۳ کال څخه بيا تر ۲۰۰۳ کلو پورې په سلهاوه روايتونه، خبرونه او ګزارشونه د خپل خانه څخه خلق کړي او د هري پيښې څخه يې جعلي او خيالي داستانونه را ايستلي او خپاره کړي وه .**

**هغه ان په خپلو دغه شاني ګزارشاتو کي تر ټولو درواغجن او تقلبي ګزارش د ۲۰۰۰ م کال د مارچ په لسمه د کيوبا څخه خپور کړ او په هغه کي يې د ژاکلين په نامه ديوې ښځي عکس چاپ کړی وو . نوموړي دغه ښځه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

**هلته د یوه هوټل مستخدمه معرفي کړې وه  چي را وروروسته بیا  د یوې غراضه کښتی په ذریعه په پټه را تښتې او د فلوریډا په تنګه کي په فجیع توګه وژل کیږي . حال داچي دنومور عکس ښځه چي «یامیلټ فریناندز» نومیږي په واقعیت کي ژوندی ده او هیڅکله یې هم داسي ماجرا نه وه تېره کړې . دغه ښځې د بلیک موریسن په نامه دنومورې ورځپاڼي یوه بل خبریال ته دغه خبره روښانه کړه او اعتراف یې و کړی چي ددغه ګزارش متن بلکل یوه ساختګي ماجرا وه .**

**په یو ایس اې تودې ورځپاڼه کي ددغه جعلیاتو افشا ګري د امریکا د ژورنالیزم په افتضاحاتو کي تر ټولو شرمناکه رسوایي وه چي په هغه وخت کي یې د امریکا د رسنیو په دننه کي د خلکو د اغوا او دتبلیغاتو واقعي ماهیت څرګند کړ .**

دیو ایس اې تودې د ورځپاڼي انټرنیټي ویب پاڼه چي په ۱۹۹۵ م کال کي فعاله سوه و خپلو لیدنکو ته ټولي خپرې سوي مقالې په لیکه کوي او همدارنګه په هره دقیقه کي نوي خبري مطالب ور سره یوځایوي خو د آرشیف و مقالو ته یې لاس رسي یوازې د پیسو په بدل کي ممکنه ده .

مآخذونه : زما خپل یاداښتونه او دغه لاندي لینکونه؛

http://en.wikipedia.org/wiki/USA_Today
/http://www.usatoday.com
http://en.wikipedia.org/wiki/USA_Today
http://www.usatoday.com/news/2004-03-18-2004-03-18_kelleymain_x.htm
http://en.wikipedia.org/wiki/United_States_journalism_scandals
http://en.wikipedia.org/wiki/Gannett_Company
http://en.wikipedia.org/wiki/Al_Neuharth

د ۲۰۱۰ م کال د سپتمبر ۲۰ مه